# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## دلوړو زده کړو وزارت

## ننګرهار پوهنتون

## اقتصاد شپې پوهنځی

مضمون : عمومي  اقتصادي سیاستونه

Public Economics Policies

کال : ۱۴۰۱ ل ل


استاد : پوهنمل صفی الله خلیلزی

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## لومړی څپرکی First Chapter

په لومړي څپرکي لاندی موضوعاتو څخه بحث صورت نیسي:

1. اقتصادي سیاست تعریفونه او مفهوم
2. اقتصادي سیاستونو اهداف
3. اقتصادي سیاست وسایل
4. اقتصادي سیاست پالیسی ګانی
5. اقتصادي سیاستونو طرحه کوونکي
6. اقتصادي سیاستونو اقسام

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## اقتصادي سياستونه

- د دولت لخوا د مختلفو اقتصادي وسايلو په کار اچولو سره اقتصادي وضعی ته تغير ورکول دي (مشخصو اهدافو ته رسيدل).
- ادم سميت: هغه نهادونه او قوانين دي چې د بازار قوتونه د ښه فعاليت لپاره فضاء مساعده کړي.
- کينز: هغه تدابير دي چې د دولت د ادارو لخوا نه د بازار د ضعف سره د مقابلې لپاره په کار وړل کيږي.
- ادم سميت د ازاد بازار پلوی وه او ويل يې چې:

1) د رقابت په اساس اقتصادي تعادل رامنځته کيږي.
2) د توليد د عواملو ګټه د رقابت په اساس ويشل کيږی
3) که دولت مداخله وکړي ګټه له منځه ځي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه....................

- ادم سمیت پیروان وايي:

1) د تولید ارزښت د مولدینو (Producers) او مستهلکینو (Consumers) لخوا په اتومات ډول رامنځته کیږي.
2) قیمتونه د عرضې او تقاضا (Supply & Demand) په اساس رامنځته کیږي.
3) دولت باید فضاء مساعده کړي او هیڅ مداخله ونکړي.

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## ادامه.....................

- كنز د ازاد بازار پلوى نه وه ( بازار كې بايد مداخله صورت ونيسي):

1) بازار كې بايد مداخله صورت ونيسي
2) تعادل خپله نه رامنځته كيږي تر څو چې دولت مداخله ونكړي.
3) كه دولت بازار كې مداخله ونكړي تصديكاني د هميش لپاره قيمتونه لوړوي او احتكار كوي.
4) د تصدي د كنترول لپاره بيروني قوتونه ضرور دي ( د دولت مداخله)

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه......................

- **سیمولسن وایې:** د بازار اقتصاد نشي کولای تعادل رامنځته کړي ( ځیني نیمګړتیاوی شته).
- **کالداري وایې:** پخوا وختونو کې دولتونو به بازار کې د مداخلې څخه ځان ساتلو، اوس وخت کې په بازار کې مداخله ضرور کنټرول کیږي.

**نتیجه:**

ادام سمیت وایې دولت باید هیڅ مداخله ونکړي، کنز وایې که تعادل براقراره وي نو دولت باید مداخله ونکړي، که یې وکړي د تصدیو کټه له مینځه ځي – خو که چیرته تعادل له منځه ولاړ شي باید دولت بیا مداخله وکړي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د اقتصادي سیاستونو اهدف - Objectives

د اقتصادي سیاستونو اهداف عبارت دي له:

- اقتصادي رشد او پرمختګ، د پیسو د ارزښت ثبات، د تادیاتو د بیلانس توازن، د قیمتونو استقرار، کامل استخدام رامنځته کیدل، اقتصادي رفاه، د عاید زیاتوالی، د عاید عادلانه توزیع، او په ټوله کې د هیواد د مختلفو منطقو لپاره یو متوازن رشد رامنځته کول.

## د اقتصادي سیاستونو وسایل- Tools

- یو سلسله متغیر کمي او کیفي وسایل دي چې د پورته مختلفو اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په کار اچول کیږي او عبارت دي له : د بانک سود، مالیي فیصدي، مزد او معاش اندازه، قیمتونو سطحه، ګمرکي تعرفه، دولتي مصارف، اسعارو نرخ....... او داسی نور.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د اقتصادي سیاست پالیسي ګانی ( اقتصادي سیاستونه) – Policies

- د مخکی ذکر شویو وسایلو په کار وړلو لپاره مختلفی پالیسي ګانې وجود لري او هغه عبارت دي له : پولي سیاست، مالي سیاست، پس انداز او سرمایه ګذاري سیاست، تادیاتو د بیلانس سیاست، استخدام سیاست، د توزیع سیاست، د قیمتونو د ثبات سیاست...... او داسی نور.
- اقتصادي سیاستونو طرحه کونکي څوک دي؟ دولتونه دي، اشخاص دي، موسسات دي، پارلمان، سیاسي احزاب، مستهلکین او نور ادارت دي.
- د مؤثره اقتصادي سیاستونو لپاره لازم دي چې د یوی ټولنی محیطي مشخصات، طبیعي، تخنیکي، رواني، سازماني، بین المللي، عقاید، ملي عنعنات، تاریخي ارزښتونه، سیاسي نظام...... او نور په نظر کې نیول کیږي.

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## Types of Economic Policies د اقتصادي سياستونو اقسام

1. ملي اقتصادي سياستونه National Economic Policies
2. بين المللي اقتصادي سياستونه International Economic Policies
3. سميز اقتصادي سياستونه Regional Economic Policies
4. سکتوري اقتصادي سياستونه Sectorial Economic Policies

## سکتوري اقتصادي سياستونه:

- صنعتي سياست، تجارتي سياست، مناقلاتي سياست، زراعتي سياست، خدماتي سياست ..... او داسی نور سکتوري اقتصادي سياستونه.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د اقتصادي سیاستونو اهدافو څخه لومړی یې کامل استخدام تامین

- په ټولنه کې بیکاري ختمه شي او د تولید عوامل باید د تل لپاره مصروفه وي.
- حکومت باید خلکو ته کار برابر کړي، همدارنګه بیکاري تشنج رامنځته کوي.
- په UK کې هغه څوک بیکاره ګڼل کیږي چې د یوی میاشتی لپاره بیکاره وي.
- هر نوعه بیکاري د اقتصاد لپاره په ضرر ده.
- د کامل استخدام (Full Employment) حدود ندي معلوم.... ٪۹۶ - ٪۹۷ خلک که مصروف وي دیته کامل استخدام واي.
- کنز: هر څوک چې د کار غوښتنه وکړي باید د کاروبار زمینه ورته مساعده شي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه.......................

- Hart: کوم جامع تعریف نشته د بیکاري لپاره.
- Lard Beverage: د Full Employment of Free Society په نوم کتاب کې وایي، وظایف باید د کارګرانو څخه زیات وي. که یوه وظیفه پرېږدي بله ترلاسه کوي.
- Aefa: موجوده ورِ کسان د وظایفو درخواست وکړي باید مقرر شي.
- UN: کامل استخدام هغه حالت ته ویل کیږي چیرته چې ٪۹۰ - ٪۹۶ پوری خلک مصروفه وي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د بیکارۍ ډولونه

1. طبیعي بیکاري
2. نوساني بیکاري

طبیعي بیکاري: کامل استخدام وي، د مزدونو د کموالي له امله کارګران نغواړي کار ترسره کړي، یعنی د خلکو خواهش وي چې د کم مزد له امله کار نه ترسره کوي.

- طبیعي بیکاري بیا په دوه ډوله ویشل کیږي (ساختاري او اصطکاکي).
- ساختاري بیکاري: د تخنیک او تکنالوژي او یا هم د فن او کسب د تغیر له امله رامنځته کیږي... مثال ( کمپیوتر سره ډیری خلک بیکاره پاتی شول).
- اصطکاکي بیکاري: د یو سکتور څخه بل سکتور ته د کارګر تلل... مثال داکتر د محاسب ځای ته تلل.

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

ادامه..............................

نوساني بيکاري: ديته جبري بيکاري هم ويل کيږي، يو څوک نغواړي وظيفه يا کار پرېږدي خو د ځينو اشخاصو يا شرايطو له امله ديته اړ کيږي چې بيکاره شي. په درى ډوله ويشل شوي:

1) دکم مزد له امله بيکاري

2) د تقاضا د نقصان له امله بيکاري


3) د سرمايي د نقصان له امله بيکاري

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## ادامه...............................

د کم مزد له امله بیکاري: **یو کارګر لوړ مزد غواړي او اړونده اداره یې نه ورکوي – بیکاره کیږي.**

- **همدارنګه د تصدیو مالکین او کارګران د قیمت په هکله متفاوت نظرونه لري.**
  - ✓ په شکل کې حقیقي مزد چې د کار په نتیجه کې لاس ته راځي.
  - ✓ په شکل کې رسمي مزد چې د یو جنس د قیمت په اساس ټاکل کیږي.




1. کارګران په W/P باندی کار کوي/ د تصدي مالک کومان کوي چې قیمت (P0) څخه (P1) ته راټیټیږي
2. د تصدي مالکین نه غواړي چې ټیټ سره لوړ مزد ورکړي/ نتیجه کې بیکاري رامنځته کیږي.
3. کله نا کله کارګران هم د کم مزد له امله کار پریږدي/ یا دا چې کارګران لوړ مزد غواړي او قیمتونه ښکته وسي نو د تصدي مالکین مجبوریږي چې د کارګرانو اندازه راکمه کړي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه..............................

- د تقاضا د نقصان له امله بیکاري: کله چې تقاضا کې کموالی راشي نو د یو جنس تولید اندازه کې کموالی رامنځته کیږي، او د تولید په کمیدو سره د تصدیو مالکین د کارګرانو اندازه راکموي.
- د سرمایې د نقصان له امله بیکاري: ځینی وخت د تصدیو مالکین د یوماشین لپاره ۶ نفره استخداموي خو د جنس د تمام شوی قیمت د لوړیدو په صورت کې نو ۳ نفره استخداموي.

نتیجه: که وسایل کم وي نو تولید هم ورسره کمیږي او بیکاري رامنځته کیږي، همدارنګه که د حقیقي مزدونو اندازه زیاته شي نو د تصدیو مالکین د کارګرانو اندازه راکموي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د بیکاري د کمیدو لپاره دوه عمده ستراتیژي

1. د تقاضا د برخی ستراتیژي
2. د عرضی د برخی ستراتیژي

- د تقاضا د برخی ستراتیژي لپاره مونږ د اقتصادي سیاستونو دوه عمده پالیسي لرو چې:

A. پولي پالیسي (سیاست)

B. مالي پالیسي (سیاست)

- دواړه پالیسي چې د اقتصادي سیاستونو عمده او مهمی پالیسی دي په تفصیل سره تشریح کیږي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## پولي پالیسي (سیاست)

- د دولت یو تعداد تدابیر او تصامیم دی چې د اقتصادي اهدافو د ترلاسه کولو لپاره په کار وړل کیږی ( بالخصوص د پیسو د ارزښت استقرار تامینول، د قیمتونو ثبات او بیکاري لمنځه وړل).
- د دولت د مرکزي بانک یو سلسله اداري فعالیتونه دي چې د هغی په نتیجه کې د پیسو د ارزښت د ساتلو او برقرارولو دنده پرغاړه لري او مشخصو اهدافو ته پری ځان رسوي (انفلاسیون محدودول، د تبادلی نرخ ساتل، اقتصادي وده او پرمختیا رامنځته کول او همدارنګه د بیکاری لمنځه وړل).
- د پیسو مجموعي تقاضا او مجموعي عرضی ترمنځ د یو تعادل او توازن د رامنځته کیدو په خاطر د پولي وسایلو څخه استفاده صورت نیسي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه.........................

- ددولت صلاحیت درلودونکي اشخاص ، مرکزي بانک اود پولي اموراتومسولین کوشش کوي ترڅود پولي پالیسیو اوتدابیروڅخه په کښه اخیستني په بازرونو کې یوتعادل رامنځته کړي.
- په بازاونو کې به تعادل هغه وخت په لاس راتلاي شي ترڅو د پولي اموراتومسول او ذي صلاحیت درلودونکي اشخاص کوشش وکړي ترڅو د پیسو دکوالي اوزیاتوالي اندازه دځپل حد څخه چې په اقتصاد کې ورته ضرورت لري زیات او کم نکړي (ځان وژغوري).
- ددي خبري دلیل دا دی چه داقتصادي ضرورت پرېنا د پیسو د اندازي کموالي اود مجموعي تقاضا کموالي رامنځته کیدل بالاخره د اقتصادي کساد اود اقتصادي فعالیتونو د رکودباعث کرځي اوپه نتیجه کي دمجموعي عرضي کموالي په اقتصاد کي رامنځته کوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه.........................

- نو پس ویلاي شو چه د کساد او اقتصادي رکود په رامنځته کیدوسره دسرمایه ګذاري اندازه کوالي مومي او دغه دسرمایه ګذارۍ کموالي باعث دمجموعي عرضي کموالي په اقتصادکي رامنځته کوي، بلاخره د مجموعي تولید د کمیدو او د بیکارۍ رامنځته کیدو باعث ګرځي.
- برعکس د پیسو د مقدار زیاتوالي د خپل حد ضرورت څخه باعث د مجموعي تقاضا د زیاتوالي سبب ګرځي او په نتیجه کي د مجموعي تقاضا زیاتوالي بالاخره دپولي تورم (انفلاسیون) د رامنځته کیدو سبب ګرځي .
- د پورتنیو نقطو په نظر کي نیولو سره ویلي شو چه د پولي سیاست اساسي او نهايي اهداف دا دي ترڅو د اقتصاد په ټولوبخشونو کي یو متعادل رشد تامین کړي او د ټولو نه مهم يي د پیسو په بخش او د شیانو د تولید په بخش کي یو تعادل رامنځته کول دي
- پورتنیو اهدافوته رسیدل هغه وخت ممکن کیداي شي ترڅو د دولت لخوا د پیسوپه حجم باندي يوک امل کنترول موجود وي.

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

ادامه.........................

- نو پس ويلاي شو چه د کساد او اقتصادي رکود په رامنځته کېدوسره دسرمايه ګذاري اندازه کموالي مومي او دغه دسرمايه ګذارى کموالي باعث دمجموعي عرضي کموالي په اقتصادکي رامنځته کوي، بلاخره د مجموعي توليد د کميدو او د بيکارى رامنځته کيدو باعث ګرځي.
- برعکس د پيسو د مقدار زياتوالي د خپل حد ضرورت څخه باعث د مجموعي تقاضا د زياتوالي سبب ګرځي او په نتيجه کي د مجموعي تقاضا زياتوالي بالاخره دپولي تورم (انفلاسيون) د رامنځته کيدو سبب ګرځي .
- د پورتنيو نقطو په نظر کي نيولو سره ويلي شو چه د پولي سياست اساسي او نهايي اهداف دا دي ترڅو د اقتصاد په ټولوبخشونو کي يو متعادل رشد تامين کړي او د ټولو نه مهم يي د پيسو په بخش او د شيانو د توليد په بخش کي يو تعادل رامنځته کول دي
- پورتنيو اهدافوته رسيدل هغه وخت ممکن کيداي شي ترڅو د دولت لخوا د پيسوپه حجم باندي يوکامل کنترول موجود وي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د پولي ارزښت نوسانات

- پیسی د تادیي وسیله ده، معاملات پری سرته رسیږي نو باید په کافي اندازه وي – په دی سره به د رکود او بیکاري مخنیوی تر سره شي.
- پیسی د ارزش ذخیری وسیله ده، د خرید قوه ده نو ارزښت یې باید وساتل شي – باید د زیاتوالی او کموالي مخنیوی یې ترسره شي.
- خومره پیسی باید اقتصادي جریان ته داخلی شي (مشکل کار دی) – بانکي سیستم په اساس کولای شو دا ستونزه راکمه او یا حل کړو.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## پولي تعادل

## Monetary Stability

- د پیسو مجموعي عرضه = د مجموعي تقاضا – ( Money Supply = Money Demand)
- دوه پوښتنې (پیسی له کوم منبع څخه ترلاسه کیږي؟ چیرته استعمالیږي؟
- اقتصادي واحدونه پیسی د کار او وظایفو په اساس او یا هم د کردیتونو په اساس ترلاسه کوي.
- تولیدي پس انداز او غیر تولیدي پس انداز – همدارنګه فعاله پیسی او غیر فعاله پیسی.
- پایداره او نا پایداره تعادل – په ټوله کې باید اضافه پیسی په کار واچول شي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## پولي تعادل

## Monetary Stability

- و یکسل سویډنی عالم وایې پولي تعادل (طبیعي بهرۍ نرخ = حقیقي بهرۍ نرخ) سره.
- طبیعی بهرۍ نرخ ته د سرمایه ګذاري څخه ترلاسه شوی ګټه یا محصول دی، او حقیقي بهرۍ نرخ د بانک څخه ترلاسه شوی ګټه یا محصول دی.
- مونږ وایو چې هیڅکله د طبیعی بهرۍ نرخ د حقیقي بهرۍ نرخ سره نشی مساوي کیدای ( د بانک نرخ لوړ وي او ژر ګټه ترلاسه کیږي نسبت د سرمایه ګذارۍ ګټی ته).

**نتیجه:** د پولي ارزښت نوساناتو لپاره دولتونه باید توسعوي پولي سیاست یا Expansionary Monetary Policy او محدوده پولي سیاست یا Contractionary Monetary Policy په کار اچوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د پولي سیاست وسایل

## Tools of Monetary Policy

- Indirect Instruments مقداري یا غیر مستقیم
- Direct Instruments کیفي یا مستقیم

# Public Economics Policies عمومي اقتصادي سياستونه

ادامه.....................

## Indirect Instrument مقداري يا غير مستقيم

- دبانک نرخ بدلون پالیسي Bank Rate Policy
- ازادبازارعملیات Open Market Operations
- دتنزیل نرخ کی بدلون Changing the Discount Lending/Rate
- کی دتغیر Securities بهاداره اسنادو
- ذخایرویه برخه کی تغیرات Changes in Reserve Ratio

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## ادامه..............

## كيفي يا مستقيم Direct Instruments

- دبهاداره اسنادودقرضولپاره قانوني پيش پرداخت
- دمصرفي قرضى كنترولول
- اخلاقي هڅونه
- مستقيم عمل

# Public Economics Policies عمومي اقتصادي سیاستونه

ادامه........................

Bank Rate Policy: بانکي نرخ د يوهيواد مرکزي بانک لخوا دقرض ورکولو ټيټ ترين نرخ دی چې د هغې په واسطه د تبادلې وړ بيلونو Bills of Exchange او دولتي اسنادو Securities نرخ کی یو تخفیف رامنځته کوی، دغه عملیه د تجارتي بانکونو Commercial Banks په واسطه ترسره کوي.

- انفلاسيون وخت کې د بانک نرخ قیمت لوړوي، خلک په کمه اندازه کريډيټونه اخلي – تجارتي بانکونه هم د بانک نرخ قیمت لوړوي.
- ديفلاسيون وخت کې د بانک نرخ قیمت ټيټوي، خلک په ياته اندازه کريډيټونه اخلي – تجارتي بانکونه هم د بانک نرخ قیمت ټيټوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه...............

**ازادبازارفعالیتونه Open Market Operation** : د یو هېواد مرکزي بانک د دی په واسطه د پیسو مقدار د پانګې په بازار کې د دولتي بهاداره اسنادود اخیستلو او خرڅولو په واسطه کنترولوي.

- مرکزي بانک د اوراق بهادار د اخیستلو په صورت کي د پیسو مقدار په اقتصادي جریان کي زیات اودهغي دخرڅلاوپه صورت کي د پیسو مقدارپه اقتصادي جریان کې کموي . او پدي ترتیب سره هغه اندازه د پیسو کومو ته چي په اقتصادي جریان کي ضرورت وي په دوران کي اچوي.
- (( هغه خلک چي د بانکونوڅخه خپل امانت ترلاسه کوي او په هغي باندي اوراق بهادار خریداري کوي دلیل یي دا دی چي د دولتي اسنادو مفاد نظریه بانک کې دامانت ایښودولو ته زیات وي . بناء هغه خلک چي بانک کې پیسی ایښي، پیسی له بانک څخه راخلي او په د هغی په ذریعه د دولت قیمتي اسناد خریداري کوي )).

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه...............

- دیادولو وړ ده چې دازاد بازارسیاست باید دهمیش لپاره اوپه هروخت کې دانفلاسیون د ضد یوه وسیله ونه ګڼل شي بلکې په ځینوموارډو کې حتی کولای شي چې د انفلاسیون درامنځته کیدو باعث وګرځي اویا د موجوده انفلاسیون د تقویي سبب وګرځي .

مثال ۱ : کله چې دولت د خپلو مالي وسایلو تقویه او تکافو داوراق بهادار دن شرولو په ذریعه پرمخ بوځي اومرکزي بانک دهغي په دوامداره عرضي باندي اتکا وکړي نو پدي صورت کې د پیسومقدار د تولید د بخشونو او سرمایه ګذاریو د بخشونو څخه د مصارفو بخش ته انتقالیږي.

مثال ۲ : کله چې د تصدیوو مفاد دولتي قرضوي اسنادو څخه کم شي نو پدي صورت کې دوي حاضریږي چې ددولت قرضوي اسناد خریداري کړي، چې په نتیجه کې د تولیداتو اندازه کمیږي اوله بله پلوه څرنګه چې دولت هغه پیسي چې دقیمتي پانو د خرڅلاوله درکه لاسته راوړي دوباره د جاري او استهلاکي مصارفولپاره په مصرف ورکوي ، په نتیجه کې مصرفي اجناسوته تقاضا زیاتوالي مومي او دهغي په مقابل کې د تولیداتواندازه کمیږي . نوبنا پر دي دقیمتونو سطحه لوړوالي مومي (انفلاسیون) او د بیکاری د زیاتوالي لامل ګرځي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه...............

- د ذکر شویو موارډو څخه د ځان ساتلو په خاطرپه اکثره پیشرفته او صنعتي ملکونو کې مرکزي بانک یوه نوعه استقلال او ازادي لري چې دغه استقلال او ازادي د دولتي قانون په چوکاټ کې منحصر وي.
- همدرانګه مرکزي بانک د دولت دځینو نورو مقاماتوسره لکه : دمالي وزارت سره د ضرورت په صورت کې یوه نوعه هم اهنګي لري.

نتیجه: د ذکر شویو نقطو په نظر کې نیولو سره د ازاد بازار د سیاست د عملي کیدو لپاره دا لازم ګڼل کیږي چې مرکزي بانک له یوه طرفه خپل عملي استقلال ولري او له بله پلوه نه یواځې ددولت مالي قوت پیاوړي کول بلکې هغه مقدار پیسي کوم چې دهغې لپاره په اقتصادکې ضرورت وي د اوراق بهادار د اخیستنې او خرڅلاو په ذریعه په لاس راوړل شي او بالاخره د ګټې په نرخ کې د شدیدو تغیراتو مخنیوی ، هغه تاثیرات کوم چې په ناګهاني ډول د اوراق بهادار د خرید اوفروش له مخې رامنځته کیږي او د زیات نشرمخنیوي باید ترسره شي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه...............

**اجباري ذخایر Required Reserve:** اجباري ذخایر د کمي وسایلو بله وسیله ده. یو مرکزي بانک کولای شي چې د پیسو عرضه او د قرضونو شتون په یو هېواد کې د تجارتي بانکونو د اجباري ذخایرو(د امانتو هغه سلنه ده تجارتي بانکونه باید ځان سره د ذخیرې په شکل کېدي) په تغیرولو سره متاثره کړي.

- د دی وسیلی (اجباري ذخایر) په زیاتوالي سره په تجارتي بانکونو کې د ذخایرو اندازه کمېږي چې په نتیجه کې د پیسو قاعده کموالې کوي او د پیسو عرضه منقبض کېږي او په معکوس حالت کې د اجباري ذخایرو په کموالي سره په تجارتي بانکونو کې د ذخایرو اندازه زیاتېږي چې په نتیجه کې د پیسو قاعده زیاتوالی کوي او د پیسو عرضه انبساط پیدا کوي.
- معاملاتي بانکونه پدي مکلف دي ترڅویوه اندازه د مجموعي اماناتو څخه چې دوي یي په لاس راوړي د مرکزي بانک سره د امانت په ډول کیږدي اوهمدارنګه یو معین نسبت یا اندازه دمجموعي داریي چې دوي یي په لاس کې لري د نغدی داریي په شکل دځان سره وساتي .

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه...............

- د پیسو د حجم تنظیمول ، د مجموعي تقاضا اندازه ،د قیمتونو استقرار او د اقتصادي فعالیتونو د استقرار او پراختیا لپاره د پولي سیاست مسولین کولای شي د اجباري ذخایرو سیاست دپولي سیاست لپاره په کار واچوي.

لومړی حالت: کله چې د پیسوحجم زیات او په ملي اقتصاد کې د هغي لپاره تقاضا د انفلاسیون او غیر پولي تعادل د فشارونو لاندي وي نو د پولي اموراتو مسولین کولای شي د قانوني اماناتو او نغده دارېي ګانو اندازه لوړه کړي او محدوده پولي سیاست د انفلاسیون په ضدعملي کړي.

دوهم حالت: په هغه مواردو کې چې د پیسو اندازه او د اعتباري اسنادو اندازه د ملي اقتصاد دحقیقي نیازمندی په نسبت کمه شي او د موثري تقاضا اندازه د موجوده تولیداتو په نسبت کمه شي نو پدي صورت کې د پولي اموراتو مسولین کولای شي د بانکونو د قانوني اماناتو او نغده دارېي ګانو اندازه کمه کړي.

نتیجه: د کساد (Recession) په حالت کې مرکزي بانک د اجباري ذخیری نسبت کموي او د رونق (Boom) حالت کې زیاتوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه...............

**تنزيل نرخ کې بدلون Changing the Discount Lending/Rate :** د تنزيل مجدد سیاست د هغه تدابیرو د مجموعي څخه دي کوم چې د یوه هیواد د پولي اموراتو مسولین هغه تغیرات چې د اوراق بهادار د نرخ د تنزيل سبب ګرځي د مرکزي بانک لخوا قابل د قبول ، د هغه مقدار پیسو د جریان تنظیم کوم چې د اقتصادي فعالیتونو د تقویې سبب ګرځي او بالاخره د پولي تعادل یو منظم شکل رامنځته کوي.

- مرکزي بانک کولاي شي داوراق بهاداردتنزيل د نرخ دلوړوالي اوټیټ والي دمنلویه صورت کي دپولي سیاست لازمه موارد دتوسعوي پولي سیاست اویا محدوده پولي سیاست دعملي کیدویه صورت کي ترلاسه کړي.

**لومړی حالت:** که چیرته په اقتصاد کې د پیسو زیاتوالی رامنځته شي او د دي مشکل د رفعه کولو لپاره د پیسو اندازی کموالی ضرورت وي، نو پدي صورت کې مرکزي بانک داسي تدابیر پرمخ وړي چې د هغي په ذریعه دتنزيل مجدد نرخ لوړوي.

**دوهم حالت:** که چیرته په اقتصاد کې د پیسو کموالی رامنځته شي او د دي ضرورت د رفعه کولو لپاره اضافي پیسو ته ضرورت وي نو پدي صورت کې مرکزي بانک داسي تدابیرپرمخ وړي چې د هغي په ذریعه د تنزيل مجدد نرخ کموي.

**نتیجه:** په پولي بازارونو کې باید د تنزيل مجدد پالیسی په زیاته اندازه موجود وي او د دي پالیسی په اساس هغه معاملاتي بانکونه کوم چې د مرکزي بانک لخوا د اعتماد وړ وي په زیاته اندازه وجود ولري.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه...............

**د بهاداره اسنادو د تضمین سیاست Securities:** د دي سیاست په ذريعه معاملاتي بانکونه د مشکلاتو د مواجه کیدو په صورت کې خپل هغه مشکلات چي د بهاداره اسنادو له پلوه واقع شوي وي و مرکزي بانک په غاړه اچوي او د دي په ذريعه د خپل اړتیا وړ پیسي ترلاسه کوي اوخپلي سیالی مخ پر وړاندي بیايي.

- د بهاداره اسنادو د تضمین سیاست نه یواځي د بهاداره اسنادو لپاره بلکي په ځینو نورو هیوادونو کې د طلا او نقرى قیمتونه هم د مرکزي بانک په غاړه اچوي.
- د بهاداره اسنادو د تضمین سیاست هم د هغه وسایلو د جملي څخه دي چي د هغي په ذريعه د پیسو دحجم اندازه او د هغي دوران ترکنترول لاندي راولي.



# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## مالي سياست

## Fiscal Policy

د تقاضا د برخی د ستراتيژی دوهمه پاليسي مالي سياست دی

- دولتونه دوه ډوله اقتصاد پرمخ بيايي (پولي اقتصاد او مالي اقتصاد)
- په اصل کې پولي اقتصاد د مالي اقتصاد په اساس رامنځته کيږي
- پس ويلای شو چې مالي سياست په اصل کې د مالي اقتصاد د فعاليتونو درست تنظيم او تشکيل دی
- مالي سياست د دولتي راکړی ورکړی مسايلو پوری تړاو لري (( د دولت عوايد او مصارف تنظيموي))
- ټول بحث په مالي سياست کې د دولتي عوايدو او مصارفو په اړوند کيږي ( يعنی د دوه ډوله وسيلې چې عوايد او مصارف دي څرنګه په درست ډول سره تنظيم شي)

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## مالي سياستونو اهداف

## Objectives of Fiscal Policy

- د مالي سياستونو اهداف زيات دي، خو تر ټولو مهم اهداف يې عبارت دي له:

1) کامل استخدام Full Employment
2) انفلاسيون محدودول Control Inflation
3) اقتصادي وده Economic Growth
4) د قرضو کنټرول Control of Debt
5) دعايد توزيع Re-distribution
6) تادياتو بيلانس کې توازن رامنځته کول Equilibrium in Balance of Payment

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## مالي سیاست ډولونه

## Types of Fiscal Policy

A) علمي مالي سیاست

B )عملي مالي سیاست

علمي مالي سیاست : د علمي مالي سیاست په اساس موږ د یوی ستونزی د حل لپاره مختلف معلومات راټولوو، او وروسته بیا د هغې تحلیل او تجزیه صورت نیسي تر څو نتیجه یې د عملي مالي سیاست لپاره په واک کې ورکوو.

عملي مالي سیاست: د عملي مالي سیاست په وسیله د ترلاسه شویو حل لارو لپاره تطبیقي یا عملي کار پرمخ وړي، له پورته دوه وسیلو څخه پکې استفاده صورت نیسي (عواید او مصارف).

علمي مالي سیاست او عملي مالي سیاست یو د بل لپاره لازم او ملزوم دي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه.........................

مثال ۱: حکومت غواړي چې موجوده مالیاتي سیستم کې تغیر راوړي ( د مالیاتو فیصدي لوړوي تر څو د حکومت عواید لوړ شي او د بیکارۍ کچې د راټیټولو لپاره خپل مصارف زیات کړي)، اوس دلته د مالي سیاست وظیفه څه کیدای شي او دعملي مالي سیاست وظیفه څه کیدای شي.

د علمي مالي سیاست په اساس دا باید وڅیړل شي چې ایا د مالیاتو لوړول خو به د اقتصاد په نورو بخشونو کې کوم منفي تاثیر نه رامنځته کوي دا علمي مالي سیاست پورې تړاو لري، اوس که چیرې تاثیرات یې منفي نه وسي د عملي مالي سیاست په اساس له پورتنیو دوو وسیلو څخه استفاده صورت نیسي ( یعنی مالیات لوړوي چې عواید ورسره لوړ شي، او دی سره د مصارفو اندازه لوړه کړي)

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه.......................

مثال ۲: حکومت غواړي د مصارفو د زیاتولو وسیلي په اساس د بیکار کچه راکمه کړي، نو په اقتصاد به یې تاثیرات څه ډول وسي؟

د علمي مالي سیاست په اساس دا څیرل کیږي چې په نورو بخشونو د دی وسیلي استعمال کوم تاثیرات لري، نو معلومه خبره ده چې:

a) د خلکو عواید به د لوړو مالیاتو په ورکړی سره راکم شيa

b) ملي عاید یا GDPراکمیږي

C) تولیداتو Products اندازه کمیږي

d) قیمتونو اندازه لوړوالی مومي

اوس نو د عملي مالي سیاست وظیفه دا ده چې یو د پورتنیو وسایلو څخه انتخاب کړي (عواید او مصارف)، که چیرته منفي تاثیرات یې زیات وي، باید بدیل لاره Alternative انتخاب کړي.

بدیله لار یا Alternative دا کیدای شي چې حکومت د خلکو څخه نه بلکی د تصدیو، کمپنیو، شرکتونو او کاربارونو، یا خصوصي سکتور باندی د مالیاتو اندازه لوړه کړي تر څو د حکومت عواید لوړ او ورسره د خپلو مصارفو اندازه کې زیاتوالی راوړي

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

ادامه.........................

مثال ۳ : حکومت غواړي چې په هیواد کې یې د استخدام سطحه لوړه شي یا د بیکارۍ کچه راکمه شي نو د مصارفو د زیاتوالي وسیله باید په کار واچوي؟ دی سره به:

a) د سرمایوي او استهلاکي اجناسو خریداري زیاته کړي

b) تصدیو ته د سب سایډویو اندازه لوړه کړي

c) مزد او معاش اندازه لوړه کړي

d) متقاعدینو حقوق او امتیازات ورکړل شي

مثال ۴: که حکومت د عوایدو د لوړیدو په اساس د استخدام سطحه لوړه کړي نو دی سره باید څه ترسره کړي؟

a) کمرکي تعارفی په وارداتي اجناسو لوړوي

b) دی سره حکومت خپل مصارف د استهلاکي او سرمایوي اجناسو په خریدارۍ سره زیاتوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د استخدام په سطحه د دولتي مصارفو د زیاتوالي تاثیرات

- حکومت د شیانو او خدماتو د اخیستلو لپاره د خپلو مصارفو اندازه لوړوي، کیدای شي د شیان د دولتي تصدیو او یا هم خصوصي تصدیو څخه وپیري، دی سره د استخدام سطحه لوړیږي ځکه د تولید عوامل ورسره په کار غورځیږي.
- حکومت د ټکسونو اندازه راکموي، دی سره د خلکو د عوایدو اندازه زیاتوالی مومي، ورسره د تقاضا په اندازه کې زیاتوالی راځي، تولید په اندازه کې زیاتوالی راځي، بالاخره د استخدام د سطحی زیاتوالی رامنځته کیږي.
- حکومت باید د استخدام د سطحی لوړوالي لپاره توسعوي مالي سیاست Expansionary Fiscal Policy په کار واچوي، کنز د اوږدی مودی لپاره د توسعوي مالي سیاست طرفدار نه وه.


**نتیجه:**

1. که اعتماد لوړ نه وسي د ټکسونو زیاتوالی د سرمایه ګذاریو په اندازه کې زیاتوالی نشی راوستی، خلک پیسی پس انداز کوي او د سرمایې د فرار باعث ګرځي. نو حکومت باید د ټولو اقتصادي واحدونو او افرادو امنیت خوندي کړي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه..................

2. مالي پالیسي عملي کیدو لپاره زیات وخت ته ضرورت وي، د لنډې مودې لپاره په AD یا مجموعي تقاضا کې زیاتوالی کوم زیات تاثیرات نشي واردولی. ګراف کې واضح شي.




- حکومت ټکسونو کې کموالي راړولي نو عواید د (Y1) څخه Y2 ته زیاتیدي دي سره مجموعي تقاضا هم لوړیږي نو د تصدي خاوند قیمت هم لوړښاکي او قیمت هم د (P1) څخه P2 ته لوړوي.

- دخلکو (GDP) د Y1 په نقطه کې او قیمتونو د (P1) په نقطه کې دي.
- دولت مالي پالیسي پذریعه AD پورته وړي.
- لکه چې (GDP ) د y1 څخه y2 ته پورته کیږي نو قیمتونه هم د P1 څخه (p2) ته پورته کیږي

**نتیجه :** کله چې AD کې زیاتوالي راشي ( تولید زیات عرضه زیاته تقاضا زیاته استخدام سطحې هم لوړیږي)

# عمومي اقتصادي سياستونه Public Economics Policies

## ادامه..................

3. مالي پالیسي عملي کیدو لپاره حکومتونه په لوړه پیمانه قرضو ته ضرورت لري، دا قرضی به یا د IBRD او یا هم IMF څخه اخلي چې پخپل ذات کې د حکومتونو لپاره ښه حالت ندی. برسیره پردی قرضی د لنډې مودی لپاره ستونزه حلوی شي اما په اوږده موده کې یې تاثیرات ډیر ناوړه وسي.

4. اسلامي هیوادونه د مالي سیاست یا پالیسي د عملي کیدو لپاره د زکات، عشر، صدقات او نوری وسیلي په کار اچوي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د بيكاري د كميدو لپاره د عرضي د برخي پاليسي

- تعليم او روزنه : اوږدي مودي په جريان كي بيكاري راكموي / نوي مهارت حاصلول يعني حكومت بايد خلكو ته د كار تر څنګ د تعليمات او روزني زمينه مساعده كړي.
- دحقيقي مزدونو كموالي : هر تصدي كوشش كوى چي د كار كرانو په رانيولو كي يوله بل سره چني ووهي اتحاديه جوړوي تر څو په ټيټ مزد سره كار كران وګماري، كه چيرته غواړو چي بيكاري كچه كمه كړو بايد په حقيقي مزدونو كي كموالي راولو كوم كسان چي 2000 Af معاش اخلي هغه ته بايد 1000 AF معاش وركړل شي.
- سباسايډي : تصدي ته يا ټكس معاف كوي يا سب سايډي وركوى، ځيني مصارف هم لري خو دولت خپل اهداف تا مينوي.

سب سايډي مرسته حكومت يي تصد يو، فابريكو او خلكو سره كوي تر څو خلكو ته د كار زمينه برابره كړي

دكاروباري ماركيټونو زياتوالي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادامه.......................

- دولت خلک باید په مختلفو برخو کي وروزي مثلا بزنس، کامرس، تجارت او صنعت برخو کي.
- حکومت خلکوته Pro Active فعالیتونه ترسره کوی

مثال: د شاروالي کسانوته 20 متره ځاي ورکړي چي تر مازیګره یي پاک کړي او یا هم CFW پروژی.

- حکومت عملا داسي یو کار تر سره کوي چي ثمره یي دومره زیاته نه وي لکه جعرافیوی موقعیت ته تغیر ورکوي.

مثلا په جلاآباد کي 10,00000 نفوس دي او په دي کي 50,000 خلکو ته د کار زمینه برابرکړي، نو باقي 9,50000 نورو دولایتو ته بیا یي او هلته ورته د کار زمینه برابر وي .

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## د اقتصادي سیاستونو دوهم هدف ( انفلاسیون د نرخ کنترلول)

## Control on Inflation Rate

**انفلاسیون څه ته ویل کیږي؟**

کله چې دقیمتونو اندازه لوړه شي اود پیسو ارزښت کم شي دیته انفلاسیون وايي او یا هم د پیسو زیات مقدار او نشرته انفلاسیون وايي.

- خنکه کولاي شو د انفلا سیون نرخ کنترول کړو دلته بیا هم د مالي اوپولي پالیسي څخه کار اخیستل کیږي.

**دانفلا سیون نرخ کنترولول څه معنی؟**

ي په معین وخت کې د قیمتونو لوړوالي ته انفلاسیون وايي، مرکز بانک پیسي کمي چا پوي تر څو انفلاسیون ټیټ شي، همدارنګه په دوامداره توګه د انفلاسیون لوړوالي دپیسو ارزښت راکموي.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادمه......................

- کنز وايي د دوو شیانو په اساس انفلاسیون رامنځته کیږي:

الف: دتقاضا زیاتوالی

ب: د مصرف زیاتوالی

- دپیسو مقداري تیوري پلویان چې مشر يې (Fridman) دی وايي تقاضا او مصارف سره تړاو نلري بلکې کله چې پیسي ډیري زیاتي اقتصادي جراياں ته داخلیږي انفلاسیون رامینځ ته کیږي.

الف: دتقاضا په اساس انفلاسیون:

کله چې (AD) کي زیاتوالي راځي نو (AS) کي هم زیاتوالي راځي اصلي علت يې (AD) کي زیاتوالی دی. کنز عرضي ته اهمیت نه ورکوی بلکې مجموعي تقاضا ته اهمیت ورکوی او وايي که مجموعي تقاضا زیاته شي انفلاسیون منځته راځي.

دوه حالته وجود لري:

الف: کامل استخدام په صورت کي انفلاسیون


ب: د کامل استخدام څخه ټیټ حالت کي انفلاسیون

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادمه.....................

كامل استخدام په صورت کې انفلاسيون تشريح ګراف په اساس

- (۱) شماره کی قیمتونه ندی لوړشوی ځکه چي ټول خلک استخدام اومنابع هم په کار لویدلي.
- کله چي تقاضا زیاته شي نو قیمتونه هم لوړیږي(۲) شمارې ته ځی چیرته چي قیمتونه لوړیږی
- کله چي مصارف نورهم زیات شي نو (۳) شمارې ته ځی اوانفلاسيون نور هم زیاتیږي.



# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies


## ادمه.....................

د کامل استخدام څخه ټیټ حالت کي انفلاسیون

- ✓ په اول حالت کی قیمتونه P0 کی وي، عاید په Y نقطه کي او تقاضا A کی نقطه کی ده.
- ✓ په دوهم نقطه کي تقاضا اندازه کی زیاتوالی راځي او د B نقطی ته ځی او قیمت هم P1 ته پورته کیږی.

اوس د کامل استخدام څخه ټیټه سطحه کی اجناسو او خدماتو ته تقاضا لوړیږی نو:

- ✓ دتقاضا د زیاتوالی په اساس Gape یا خا لیګاه د اضافی تولید په اساس پوره کیږي.
- ✓ همدارنګه Y نقطه Y1 ته اود P0 نقطه P1 ته پورته کیږی.
- ✓ د Y نه Y1 ته څکه حرکت کوي چی خلکوتقاضا موجوده ده یعنی داستخدام سطحه کی چی لوړوالی راځي نو د خلکو تقاضا شته نو قیمتونه هم لوړیږی



# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادمه.....................

### د مصرف د زیاتوالی له امله انفلاسیون

- کله چې د مجموعی عرضی نسبت مصارفوته کم شی انفلاسیون رامنځته کیږی . دلاندی علتونو په اساس انفلاسیون رامینځته کیږی.

1. مزدونو اندازه کی زیاتوالی: که د ژوندانه مصارف کم شی خلک د اضافی مزدونو تقاضا کوی انفلاسیون رامنځته کیږي یعنی کوم اجناسوته چې ضرورت دی او دهغی مصارف زیات شی نو کار یکړ هم د مزدونو د لوړوالي غوښتنه کوی.
2. داجناسوپه اساس انفلاسیون : تیل ، ګیس ، خوراکی مواد، یعنی کوم اجناسوته چې روزمره ضرورت دی او د هغی په قیمتونه کې لوړوالی انقلاسیون رامنځته کوی.
3. زیاتی ګټی په اساس انفلاسیون : تصدی اتحادیه جوړوي /انحصاري حالت کې جنس قیمت لوړیږی انفلاسیون رامنځته کیږی.

# عمومي اقتصادي سیاستونه Public Economics Policies

## ادمه.......................

4. لوړ ټکسونه : حکومت په تصدیو لوړټکسونه وضع کوي جبران یي خلک ورکوي، کله چې دولت لوړټکسونه وضعه کړی پدی سره د اجناسو په قیمتونوکی لوړوالی راځی نوانفلاسیون رامینځته کیږی.

5. وارداتی شیانو مصرف کی زیاتوالی هم انفلاسیون رامنځته کوی. کله چې زمونږ د وارداتو مصرف زیات شي هم انفلاسیون رامنځته کوي، ځکه چې زمونږ مصارف زیات شوي او قیمتونه هم لوړیږی.